# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |



محمد هارون خپل شعشعي


۱۴ اگست ۲۰۱۲

## «کږ » او «کږخولی »

څو ورځې مخکې د پښتو د عرفاني ادب د عاليمقام شاعر- علي محمد مخلص( تر ۱۰۶۹ هـ ق پوري په يقين سره ژوندی) د ديوان د نوي علمي او انتقادي متن د ټاپيولو په لړ کې و هغي غزلي ته را ورسېدلم، چي مطلع يې داسي ده :

د مــولا پر لار سم نه ځـــي نـــابينـــا کـــږ

يو سر بل سر دربل گرزي لــــه هُـــدا کـــږ

په غزله کې مي د « کږ » رديف په ليدو سره، دوې خبري جگي وسترگو ته وردېدې .

- يوه خبره دا اندېښنه وه، چي که دا ټکی د « معياري پښتو » و محتسبينو ته په لاس ور سي، نو سمدلاسه به د بې قاعدگی ټاپه پر و وهي؛ او بې ځېرني و پلټني به « کوږ » ځنې جوړ کي .

- دوهمه خبره هغه تاريخي کيسه ده، چي څو دېرش کاله دمخه مي د داوود خان د « جمهوريت » په کلونو کي د خلگو له خولې اروېدلي وه .

په دې لنډکی مقاله کي غواړم پر دې دوو اړخو له گرانو لوستونکو سره د زړه خواله وکم، چي په واقعيت کي هم ژبپوهنه او لغتپوهنه ده؛ او هم تاريخ و سياست .

د ايتيمولوژی له نظره خو د پښتو« کَږ » **kaẓ** او « کوږ **koẓ** » يا د پارسي« کژ**kaz**/ کژ **kaž** » مفغنه بنه بربېښي يا دواړه ( پښتو او پارسي) ټکي په لږ وډېر بدلون، له يوې اريايي ريښې ځخه را وتلي دي . د پارسي ژبې« **کج kaj** » ټکی هم د همدې « کز/ کژ » اوښتې بنه ښکاري، چي د« جيم » برخه يې تر ډېره حده معرب رنگ لري؛ ځکه د پارسي ژبې ځيني کليمې لکه « نرگس »، « نارنگ »، « برنامه » او داسي نور په عربي ژبه کي په « نرجس »، « نارنج »، « برنامج » او داسي نورو اوښتي دي . د پارسي په لرغونو متنو کي د «کژ» او « کژی » ټکي خورا ډېر تر سترگو کيږي؛ مثلاً حکيم ابوالقاسم فردوسي توسي ( ۳۲۹ - ۴۱۱ هـ ق) وايي :

به گيتی بِه از راسـتی پيشه نيســت

زِ کـــژی بتـــر هیچ اندیشه نیست[1]

د اسلامي عِرفان تلپاته او ځلانده ستوری - مولانا جلال الدین بلخي رومي ( ۶۰۴ - ۶۷۲ هـ ق) په خپل « دیوان شمس » یا « دیوان کبیر »کي د « کژ » کلیمه داسي راوړې ده :

هین کژ و راست می روی باز چه خورده ای بـگو

مست و خراب می روی خانه به خانه کـو بـه کو[2]

د دې خبرې روښانول، علمي څېړنه او پلټنه غواړي، چي پښتو« کږ » د پارسي« کز/ کژ » مغفنه بڼه ده، که د پښتو او پارسي دواړي کلیمي د جولي په اړولوسره له بلي ژبي (اوستا) څخه را زېږېدلي؛ او تر څه پراوو وروسته په دې بڼو اوښتي دي . د « کږ » د ریښه پېژندني په اړه دمګړی همدا څو ټکی کافي ګڼم؛ ځکه د یوې کلیمي تر پلار و نیکه پېژندلو د هغې په اوسنی مانا، استعمال او ګرامري ځانګړتیاوو ځان پوه کول، ډېر ارزښتمن او ضروري کار دئ .

« کوږ »،« کاږه »، « کږه »، « کږې » په ټولو پښتنو کي ژوندی او مستعملي کلیمي دي؛ خو« کږ » د پښتوپه ګردو لهجو کي ژوندی او مروَجه نه ده . د پښتو جنوب - لوېدیځي لهجي دا لرغونی ټکی تر اوسه پوري په خپلو ورځنیو خبرو او مرکو کي ژوندی ساتلئ دئ . « کوږ »او « کږ » دواړه په حقیقي مانا د « کاږه »، «خم سوي»، « تاو سوي »، « د راسته یا سیده ضد » مفهوم بیانیي؛ خو« کږ » کلیمه په مجازي ډول د« بې لاري»، « ناکاره » ،« مُنْحَرِف »، « ګُمراه » او« مُضِل » په مانا استعمالیږي . زموږ مشرانو او پخوانو هم د علي محمد مخلص په څېر« کږ » ټکی په مجازي مانا کاراوه؛ مثلاً ویل بې : « پلانی لوی کږ دئ . »، « له پلاني کږ څخه ځان ساتئ! » او داسي نور . که څه هم « کږ » د « کوږ » مخففه یا لنډه بڼه ښکاري؛ خو سره له هغه هم هر ځای د یو بل پر ځای نه کارېږي . په اوسنیو محاورو کي د« کوږ » صفت زیاتره د ساده یا غیرترکیبي ټکو په بڼه استعمالیږي؛ مثلاً خلګ وایي : « دېوال کوږ دئ . » هیڅکله نه وایي : « دېوال کږ دئ . » خو په ځینو ترکیبي ټکو کي بیا د « کوږ » پر ځای معمولاً « کږ » ټکی کاریږي؛ مثلاً : کږ خولی ( هغه څوک، چي مورزاده یا د ناجوړې په سَوَب یې خوله کږه یې)، کږ سترګی( چېک، عین و غین، چغر، اَحْوَل، کاژ/ کاج . . .)، کږلېچ (په غرو کي تنګه او کږه وږه لار، کوتل، ورسک . . .) او داسي نور . البته، د پښتو په جنوب - لوېدیځه لهجه کي پر دغو ټکو سربېره، ځیني نور ترکیبي ټکي هم په لنډو یا اختصاري بڼوپراخ استعمال لري؛ مثلاً : ړندوالی (ړوند والی، ړندېدل) ، زړوالی (زوړوالی، زړښت) ، پخوالی( پوخوالی)، سړوالی( سوړوالی، سړښت)، رغوالی (روغوالی، رغېدل، جوړېدل) او داسي نور .

دا ټول مخففات یا لنډیزونه د پښتو ژبي د لغوي او ادبي زېرمي ارزښتناکه برخه ده، چي هیڅکله باید په خبرو او لیکنو کي له پامه و نه غورځول سي . یوه بله مهمه خبره دا ده، چي« کږ » کلیمه باید هیڅکله په خبرو او لیکنو کي له « ګږ **gaẓ** » کلیمي سره ګډه نه کو . دا لرغوني کلیمه د بَبَر ( په وېښتانو ډک، هغه څوک چي پر مخ سربېره یې پر پزه او غوږو هم اوږده وېښتان شنه یې) او پاخه سړي په مانا د جنوب - لوېدیځي لهجي په ورځنیو خبرو او مکالمو کي مروَجه ده .

د ژبپوهني او لغتپوهني په روڼا کي تر دې لنډو خبرو وروسته را رسیږو و هغې کیسې ته، چي د « کږ » له همدې کلیمي سره تړاو لري .

عزیزانو! څو دېرش کاله مخکي د داوود خان د « جمهوریت » په کلو کي، په کندهار کي، د غلو او پایلوچانو یوه پیاوړې ډله پیدا سوه، چي جمعه گل، پستکی، عیسی محمد (د کنداریانو په اصطلاح عیسامد) او کړ خولی نور محمد ( د کنداریانو په اصطلاح کړخولی نورماد) یي ډېر مشهور او سرغنه غړي وه . په خلگو کي اوازه وه، چي دا ډله له غریب او مسکین سړي سره غرض نه لري؛ یوازي پر لویو سوداگرو او مړو خلگو حملې کیي . دا چي دا ډله ریشتیا هم عیاران یا د کنداریانو په اصطلاح « پایلوچان » وه که مازي غله او لوچگان، یوازي هغه څوک ښه قضاوت کولای سي، چي له نیژدې یې ور سره پېژندل؛ او په هر کرتوت یي پوره خبر وه . خیر، دا وخت د کندهار والي د داوود خان د خاله زوی ؤ، چي چاغ ، لوړ، سور، سپین، مَعمَره او معزز سړی ؤ . کنداریانو د نرم او پاسته طبیعت له اسیته د پسه نوم پر ایښئ ؤ . د فوټبال په موسمي لوبو( ټورنمینټو) او ځینو نورو تشریفاتي غونډو کي بې ( به یې) منظمه برخه اخیستله؛ خو د ولایت د اداري او انضباط خوند یي نه ؤ . ښایي د حکومت مشرانو له همدې خاطره د امنیي داسي قومندان ور ته را لېږلئ ؤ، چي د ده د کمزوري اداري خلا ډکه کیي؛ او د پردې تر شاد ولایت د چارو واگې په خپل لاس کي و نیسي . د کنداریانو په اصطلاح دا« اور خوره » قومندان د همغه وخت د کورنییو د چارو د وزیر راسته لاس ؤ؛ او هیچا کي رهی نه واهه .

قومندان صاب و کندهار ته له خپل راتگ سره جوخت پر غلو او بدماشانو کلک گوزارونه پیل کړه؛ او په لږ وخت کي و لویو بریاوو ته ورسېدئ . د ډلي له غړو څخه د سرپوزي د غره د کلي اوسېدونکی، پستکی، و وژل سو؛ جمعه گل د خلگو له خولي و نورو ملکو( غالباً ایران یا پاکستان) ته و تښتېدئ؛ کړ خولی نورماد له ځینو نورو بې نام و نښانه ملگرو سره د قومندان صاب په گوتو کښېوتل . د ډلي یوازنی غړی، چي تر اوسه ازاد گرزېدئ، عیسامد ؤ . په خلگو کي داسي اوازې او گنگوسي وې، چي عیسامد د جېمز بانډ فیلمو په شان کله په دریشی، کله په ملي کالو، کله په کندهار اوکله هم په کابل یا نورو ولایتو کي پر لویو سوداگرو حملې او غوټې وهي . په دغو کلو کي د کابل له یوه تجارتي سرای څخه په سپینه ورځ د څو لکو نغدو پیسو تښتول هم پر عیسامد او ملگرو تاوان سوه .

که څه هم دکندهار عامو خلگو د غلو او بدماشانو د ورکېدو یا بند و زند تود هرکلی وکئ؛ خو سره له دې هم د قومندان صاب له زور زیاتي او دیکتاتور مآبی څخه راضي نه ښکارېدل؛ ځکه قومندان صاب نه یوازي د غلو او لوچگانو په نیولو او بندي کولو کي تر خپل قانوني صلاحیتو تېری کاوه، بلکي له عامو خلگو او حتا خپلو حکومتی مامورینو سره یي هم ښه او اخلاقي چال چلن نه کاوه . د دې خبرو تر څنگ، قومندان صاب د خپلي قومندانی او نورو مربوطو ادارو د منصبدارانو په جرمو او فساد پسي هم هیڅ سر نه گرځاوه . په امنیه قومندانی، پاسپورټ، ترافیکو، محبس، د پولیسو په مامورینو او داسي نورو ولایتي ادارو کي هره ورځ په سوو نارواوي کېدلې؛ خو هیچا و قومندان صاب ته د شکایت کولو جرأت نه کاوه . د دې خبري مانا دا وه، چي یا قومندان په خپله هم په پوست پاک نه ؤ یا یې د خپلو افسرانو او مأمورینو و رشوت اخیستلو او نورو خیانتو ته د جرمو او سرغړونو په سترگه نه کتل . خیر، کړخولی نورماد تر نیول کېدو وروسته په سرپوزه کي د کندهار و عمومي محبس ته راوستل سو. زموږ کور و محبس ته دونه نیژدې ؤ، چي کله کله به له لیرو سیمو څخه راغلو مېلمنو د شپې د پیره دارانو د نارو او شورماشور په سَوَب تر سهاره خوب نسوای کولای . د محبس مدیر او ځینو منصبدارانو هم زموږ په شاوخوا کي ژوند کاوه . په دې وجه نو د مکتب پر انډیوالانو او کوڅه والو سربېره د محبس د مدیر او نورو افسرانو د زامنو پر لاس هم، د محبس او بندیانو په حال خبرېدم .

ویل کېده، چي قومندان صاب له کرخولي نورماد څخه د اقرار اخيستلو په نيامت له هيڅ راز شکنجي او تعذيب څخه صرفه نه کوله . د کرخولي نورماد د وهلو ټکولو خبري هر ځای زما غوندي سترګه ورونکو او متشبثو ښاريانو په مجلسو کي پورته او کښته کېدې . د خلګو له قوله، د کرخولي بدن له ډېرو ټپو او پرهارو چنجي وکړه؛ خو سره له دې هم قومندان صاب د اعداملو په هيله د هغه د اقرار په ترلاسه کولو نه بريالی نه کېدئ . وايي کرخولي به څارنوالانو ته ويل : « غلا مي کړي ده؛ ډاکه مي وهلي ده؛ خو نه مي د چا پر ناموس تېری کړئ دئ؛ او نه مي څوک وژلئ دئ . . . » ویل کېده، قومندان صاب قَسَم اخيستئ ؤ، چي که يې له خپلي غوښتني سره سم په کرخولي اقرار و نه کئ، نو ماينه بر پر طلاقه يي . خلګو نکل کاوه، چي کرخولي به تر وهلو ډبلو وروسته و قومندان صاب ته دوي درې کوچنی ډبري ور و غورځولي؛ او په پوزخند و ډرييو بي ورته ويل : « دا دئ صاحبه! اقرار ځني واخله! »

شک نه ؤ چي قومندان صاب فرعون صفته سړی ؤ، د کرخولي د غلا په اقرار يي ګرسره غاړه نه ايستله؛ ځکه د جزا د قانون د حُکمو له مخي د غلا د جرم سزا دونه نه وه، چي د قومندان صاب کينه او خښم ور سوړ کي . ښايي قومندان صاب به غوښتل، چي د ځينو مجرمينو په اعداملو سره په کندهار کي د سام او وحشت فضا خپره کي؛ او په دې توګه د نورو بالقوه مجرمينو د جرمو او جنايتو مخه و نيسي . له دې چال چلن څخه برالا ښکارله، چي قومندان صاب د جزا په حقوقو(Criminal Law)، جزا پوهني(Penology) او کريمينولوژی (Criminology) شک هم نـــه ؤ؛ ځکــه مُجـــرِم ته په جـــزا ورکـــولـــو کـــي د سزا(retribution) ، فـــردي اوعمـــومي انتبـــاه (individual and general deterrence ) تر څنګ د هغه د بيا روزني (rehabilitation) اړخ هم ډېر ارزښتناک او ضروري دئ .

څه سر به مو ګرزوم، قومندان صاب له کرخولي څخه د انسان وژني او نورو مشدده جرايمو د اقرار په تر لاسه کولو کي تر خپلي ناکامی وروسته وکابل ته مخه کړه؛ او هوري يي د کرخولي او يارانو د اعداملو هلي ځلي شرو( شروع) کړې . مياشتي لا نه وې تېري، چي نابېره په محبس کي د کرخولي او څو ملګرو د اعدام خبري تودې سوې . په داسي حال کي، چي خلګ د قومندان و زور زياتي او کسات اخيستني ته ګوته په غاښ وه، کرخولی نورماد او څو نور انډيوالان په همغه محبس کي په دار و ځړول سول . دا مو لا هم واروېدله، چي کرخولی په اول وار ځړولو سره مړ نه سو؛ ځکه يې نو دوهم وار بيا وځړاوه؛ او تر هغه مهاله يې په دار ځړولئ ؤ، چي په ژوندي پاته کېدو کي هيڅ شک او شُبه پاته نه وه .

کرخولی نورماد که بې اقرار او شواهدو دوه پلا په دار و ځړول سو، د قومندان صاب پاچهي هم تر ډېره پاته نسوه . د کرخولي د مظلومانه ځړولو کيسي لا د خلګو له حافظو څخه هېري سوي نه وې، چي د پرچميانو د نامتو مشر، مير اکبر خيبر، د وژني له امله په کابل ښار کي د خلقيانو او پرچميانو د پراخو مظاهرو خبرونه خپاره سول. د خيبر له مرموزي وژني څخه را پيدا سوو خړو پړو سياسي - امنيتي حالاتو د داوود خان حکومت، په تېره بيا د هغه امنيتي او استخباراتي اورګانونه له خورا لوی ازموينت سره مخامخ کړي وه . ويل کېده، چي قومندان صاب د خپل ماجرا غوښتونکي او اورخوره طبيعت د ارضا کولو او لوړو دولتي امتيازاتو د ترلاسه کولو په مخسد( مقصد) د وخت د کورنيو چارو له وزير څخه په ټينګار غوښتنه کيي، چي د کابل د کړکېچنو سياسي - امنيتي حالاتو د ډاډمني اداري دپاره يې ژر تر ژره و کابل ته ور وغواړي . وزير صاب چي د پخوانی انډيوالی پر بنسټ يي د هغه پر ډيسپلين، انضباط او بې رحمی پوره باور لاره، په ډېري خوښی يي وکابل ته د هغه د ورتګ غوښتنه و منله؛ خو وروسته ثابته سوه، چي قومندان صاب د کابل د سياسي - امنيتي حالاتو د کنترول

دپاره نه، بلکي د مرگ و منگولو ته د ځان سپارولو په خاطر، کابل ته ورغلئ ؤ . د بی پروا فلک کارونه تل همداسي دي . پر هيچا رحم نه لري . قومندان صاب به ښايي د کندهار - کابل د لاري ستړياوي لا نه وی ايستلي، چي د داوود خان د « جمهوريت » مانی په ساعتو کي نسکوره سوه . ځيني وزيران او صاحبان د قضا د سپرو تر تېغو تېر سول . قومندان صاب هم د نورو اجل نيولو په څېر ځان ورساوه.

زماني تيري سوې؛ خو د کړځولي او قومندان خاطره لا تر اوسه په زړه کي ژوندی ده . ما محبس ته د نيژدي والي او خپل کنجکاو طبيعت له مخي دا او ځيني نوري دردونکي پېښي له نيژدي څارلي؛ او تر اوسه هم زرونه کيلومتره ليري د سرپوزې پر کوچني محبس سربېره د لوی محبس يا اشغال سوي افغانستان، حالات څارم . د خلقي او پرچمي قومندانانو د فرعونيت او ذلت صحني مي په سترگو وليدلي؛ د جهاد د سوداگرو او کاغذي زمريانو د انسان وژني، ورانکاری او بالاخره نامردانه تښتي حالات او اثار مي وليدل؛ د طالب زورواکو د کېبل وهلو او افراطيت کيسي مي هم په زْوَر او زېر واروېدلي؛ او دا دئ له څه کم يوولسو کالو راهيسي يو ځل بيا د خپلو او پردو بلاوو د داسي جنايتو، خيانتو او نارواوو شاهد يم، چي قلم يې له بيانه عاجز دئ . ورځي او شپي په چټکی سره تېرېږي . هيڅوک په دې نه پوهېږي، چي سبا به څه پېښيږي؛ خو يوه خبره لمر غوندي روښانه ده :

هر انسان به هغه څه رېبي، چي کرلي يې!

---

[۱] حسن عميد، فرهنگ عميد،۳جلد، چاپ دوم . ( تهران : امير کبير، ۱۳۶۵) ۳: ۱۹۶۶ .

[۲] جلال الدين بلخی، کليات شمس (ديوان کبير)، با تصحيحات و حواشی بديع الزمان فروزانفر، جزء سوم . ( تهـران : امير کبير، ۱۳۵۵) غزل شماره ۲۱۵۴ .